د استغفار ويلو سرداره دعا

له شداد بن اوس رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: د استغفار ويلو سرداره دعا اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لاَ إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ، وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي، فَإِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ» (يا الله! ته زما رب يې، نشته د عبادت وړ په حق سره پرته له تا څخه، تا زه پيدا کړى يم او زه ستا بنده يم، او زه ستا پر لوظ او ژمنه له خپل توان سره سم ولاړ يم، پناه غواړم پر تا له هغه شر نه چې ما تر سره کړى، اقرار کوم تا ته ستا په هغو نعمتونو چې تا ما ته راکړي او پر خپلو ګناهونو هم اقرار کوم، نو ماته بخښنه وکړه، ځکه چې له تا پرته بل څوک ګناهونه نه شي بخښلى. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «وَمَنْ قَالَهَا مِنَ النَّهَارِ مُوقِنًا بِهَا، فَمَاتَ مِنْ يَوْمِهِ قَبْلَ أَنْ يُمْسِيَ، فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الجَنَّةِ، وَمَنْ قَالَهَا مِنَ اللَّيْلِ وَهُوَ مُوقِنٌ بِهَا، فَمَاتَ قَبْلَ أَنْ يُصْبِحَ، فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الجَنَّةِ». «او چا چې دا دعا له يقين سره د سهار له خوا وويله، او له شپې ورانديې په همدې ورځ مړ شو، نو هغه جنتي دى، او چا چې دا دعا په يقين سره د شپې له خوا وويله، او له سهار نه مخکې مړ شو، نو هغه جنتي دى».

[صحيح دى] [بخاري روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې د استغفار لپاره کلمې دي او په هغو کې تر ټولو غوره او لويه د بنده لپاره دا ده چې ووايي: "اللهم أنت ربي لا إله إلا أنت خلقتني وأنا عبدك وأنا على عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ ما اسْتَطَعْتُ أعوذ بك من شر ما صنعتُ أَبُوءُ لك بنعمتك عليَّ وأَبُوءُ لك بذنبي فَاغْفِرْ لي فإنه لا يغفر الذنوب إلا أنت" نو بنده لومړى د الله جل جلاله په يووالي اقرار کوي او دا چې الله جل جلاله يې پيدا کوونکى او معبود دى، شريک نه لري او دا چې دى د الله سره په خپلو ژمنو د توان تر کچې ولاړ دى؛ ځکه بنده که څومره عبادت هم وکړي بيا هم نشي په عبادت کې د الله تعالى ټول اوامر پر ځاى کړي او نه شي کولى د الله د هغو نعمتونو پوره شکر ادا کړي چې شکر ويستل يې پرې واجب دي، نو بايد چې الله تعالى ته رجوع وکړي او هغه ته پناه يوسي، ځکه الله هغه ذات دى د بنده له شر څخه ورته پناه ورکړل کيږي. او دى هغه ته په خپله خوښه د هغه په نعمتونو اقرار کوي او په خپلې ګناه او سرغړونو اقرار کوي. الله جل جلاله ته لدې ننواتو وروسته له خپل رب څخه دا دعا غواړي چې د ګناهونو په پټولو سره ورته بښنه وکړي او په خپلې بخښنې، فضل او رحمت سره يې د ګناه له بديو وژغوري ځکه چې له هغه لوى څښتن پرته بل څوک ګناهونه نه بخښي. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې دا دعا د سبا او بيګا له اذکارو څخه يوه ده، نو څوک يې چې په يقين سره ووايي، له ايمان سره يې معنا په زړه کې راولي او د ورځې په پيل کې يې د لمر راختلو او زوال تر منځه ووايى، چې دا د ورځې وخت دى، بيا مړ شي نو دى به جنت ته داخل شي. او چا چې بيګا مهال وويله، يعنې د لمر له ډوبېدو څخه تر سهار راختلو پورې او بيا له سبا کېدو مخکې مړ شو، نو جنت ته داخل شو.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5503